مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۷/۰۶

# د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

## (د افغانستان سیاسي تأریخي ګزیټر)

## پینځم ټوک

## کندهار
## او
## د افغانستان سویل – مرکزي برخې

دوه سوه او دوه څلویښتمه پرله پسې برخه

ایډیټ:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**خوشرو/خسرو**: ۴۲ – ۳۱، ۴۰ – ۶۵: دا د ارغنداب د سیند پر ښۍ غاړې یو کلی دی چې د بابا ولي د کوتل له لارې له کندهاره ۴/۱ ۷ مایله لیرې دی، دا کلی د «شوهین» له ګودر څخه تقریباً ۲ مایله کښته او هم د بابا ولي له کلي څخه یو لړ واټن پورته د سیند په مقابلې غاړې کې دی.

د ۱۸۷۹ز کال د اپریل په میاشت کې د جنرال پالیسر ځواک خاکریز ته د تګ پر لاره همدلته له سیند څخه تیر سو، دا ځواک د فتح خان له لارې چې د سیند له ښۍ غاړې څخه ۴/۱ ۸ مایله لیرې دی راغلی وو. ویل سوي چې دا ګودر کله ناکله خطرناک وي او کله چې سرتیري ورڅخه تیریږي باید پل ځایونه ئې په نښه سي، د کلي له منځه تیره سوې لاره نرۍ ده او د توپونو د وړلو لپاره د تیریدلو لاره نـۀ ده. «لینس» د دې کلي د نوم بڼې لیکل په همدې ډول سره ورکړې دي خو داسې ښکاري چې دا د «خسرو» تر نامـۀ لاندې هماغه دوه کوچني کلي دي چې شرحه سوي او د لیکلو رسمي بڼه ئـې بیسکو ورکړې ده. «لینس، آی. بي. سي.»

**خواجه علي**: ۲۸ – ۳۱، ۴۲ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د سویل په ۸ مایلۍ کې د ترنک د سیند په یو مایلۍ کې یو کلی دی. دې کلي کې په ۱۸۸۰ز کال کې ۴۶ کورونه ول. د کلي استوګن وګړي بارکزي دي. «بیسکو» اوسنۍ نقشې دا نوم د خواجه علي بابا په ډول ښیي.

**خواجه عمران**: ۳۹ – ۳۰، ۲۷ – ۶۷ «الف»: دا د غرونو یوه د پام وړ لړۍ ده چې د ښوراوک په دښتې کې د توبې له لوړې سطحې څخه غځیدلې او د پشین د دښتې په ټول شمال لویدیځ اړخ کې غځیدلې او پشین له کدني څخه جلا کوي. د دې لړۍ ټول ټال اوږدوالی تقریباً ۵۰ مایله دی او د لړۍ د اوږدوالي په ډیری برخه کې لوړوالی ئـې ۸۳۰۰ فیټه دی حال دا چې د پشین د درې له عامې سطحې څخه ئـې لوړوالی ۳۵۰۰ فیټه او له کدني پورته ۴۳۰۰ فیټه دی. تر ټولو لوړه څوکه ئـې خواجه عمران ده، خواجه عمران د کدني په خوا کې یوه نیمه منفرده غرنۍ کتله ده چې تر ۸۸۶۴ فیټو پورې لوړه تللې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **خواجه آتش**: ۴۴ ــ ۳۲، ۱۱ ــ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې «اوکال» ته نیږدې د ارغنداب د سیند پر غاړه یو کلی دی.

**خواجه خیل**: وګورئ: تازي: په دې نوم کلي په ۱۷ ــ ۳۲، ۲۲ ــ ۶۷ «ن» او په ۱۹ ــ ۳۲، ۵۰ ــ ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

**خواجه محمد**: ــ ۳۱، ــ ۶۸: دا د کچ خواره د کلیو په منځ کې یو کلی دی چې د دوست محمد د کلا د لویدیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې واقع دی. د دې کلي وګړی سلیمان خیل دي. «بن» *په دې نوم یوکلی د سپین بولدک د شمال په تقریباً ۲۰ مایلۍ کې په ۱۳ ــ ۳۱، ۳۰ ــ ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.*

**خواجه ملک**: ۴۶ ــ ۳۱، ۴۵ ــ ۶۵ «ن»: دا په قریه جاتو کې یو کلی دی چې ګیسلي ئې د لوی کلي په ډول یادوي خو بیسکو کندهار ته د نیږدې کلیو په هکله راپور کې وایي چې دا کلی یوازې ۳۲ کورونه او ۱۰۵ تنه وګړي لري چې الکوزي او غلزي دي. دا کلی د ارغنداب د سیند پر غاړه هغۀ ټکي ته نیږدې واقع دی چې د سوزني سیند ورسره یو ځای کیږي او د هغۀ مهم نهر په سر کې واقع دی چې د ارغنداب د سیند د اوبو له بهیر سره تر هغو موازي تګلوری لري چې د کندهار مقابل لوري ته ورسیږي ؛ له هغه وروسته د غرونو له منځه په یوې دښتې ورننوځي او د کندهار د ښار د اوبو رسولو اساسي سرچینه جوړوي. خواجه ملک کې یو مشهور زیارت دی او د سړک له لارې له کندهار څخه تقریباً ۱۲ مایله لیرې دی؛ دا سړک د ارغنداب تر درې او د میزان تر ولسوالۍ او تر قلات غلزایي پورې تللی دی. دا سړک کلي ته نیږدې د ارغنداب پر غاړه یوۀ ګودر څخه اوړي او ویل سوي چې آسانه ګودر دی، سیند دلته ۲/۱ فیټه ژور او ۳۰ فیټه د فبرورۍ د میاشتې په نیمایي کې ارت دی چې بستر او غاړې ئې ډبریني دي. وروسته له دې چې سړک له ګودر څخه واوړي بیا د سیند کینه غاړه د کندهار لور نیسي او د خواجه ملک، مرنجان او نورو سترو کلیو له منځه تیریږي. بیسکو وایي چې د خواجه ملک ګودر د «سه کله» [1] د کمپ له سیمې څخه ۱ مایل لیرې دی او د ارغنداب په کینې غاړې کې دی، له سوزني او مردا زي څخه تر کندهار پورې سړکونه تللي دي. «بیسکو، ګلیسي، آی. بي. سي.»

**خواجه زي**: دا د اڅکزیو یوه څانګه ده. «بیسکو»
باور دا دی چې «خواجه زي» یا «خواجک زي» باید د بارکزیو یوه څانګه وي. *په دې نوم نور کلي د ارغنداب بند په شمال ختیځ کې په ۵۴- ۳۱، ۵۹ ــ ۶۵ «ن» او د تیرین د سیند پر غاړه په ۵۹ ــ ۳۲، ۱۰ ــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

* **خواجه زنګي**: ۳۱ ــ ۳۲، ۵۷ ــ ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې عراقي کلي ته نیږدې د ارغنداب د سیند پر غاړه یو کلی دی.

* **خواجه زور**: ۷ ــ ۳۲، ۱۴ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې  د ارغنداب د سیند د یوې څانګې پرغاړې، له ارغنداب سره د یو ځای کیدنې له ټکي څخه تقریباً ۲ مایله لیرې یو کلی دی.

* **خوازي**: ۱۱ ــ ۳۲، ۳ ــ ۶۷ «ن»: دا د ترنک د سیند پر غاړه په زابل کې د قلات د شمال ختیځ په تقریباً ۱۲ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **کیم**: ۲۶ ــ ۳۱، ۴۶ ــ ۶۶ «ن»: دا د ارغسان د سیند د سویل په تقریباً ۲ مایلۍ کې د کندهار په ولایت کې د معروف د ناوې د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۲ مایلۍ کې یو کلی دی.

**کیرال**: دا د «پسین» [2] یوه څانګه ده. ویل سوي چې  د دې څانګې بنسټ اېښودونکی «کیرال» [3] له یوې «سیدې» میرمنې سره وادۀ وکړ او له هغۀ وروسته د دوی اولادو او اعقابو د سید لقب خپل کړ.  دوی د «توکرک» د سیمې په لویدیځ کې د «منډن د نالې» [4]په اوږدو کې او «سبورې» [5] ته نیږې د سلیمان خیل کاکړو پر کرښه اوسیږي. ویل سوي چې د کدني او توکرک او بیانیزیو د سیندونو د یوځای کیدنې په ټکي کې د کدني د سیند پر ښۍ غاړه د دوی ۲۰ کورنۍ وداني دي او ۲۳ نورې کورنۍ ئې په کینې غاړه کې دي. هغوی چې د افغان قلمرو په خاوره کې دي هغوی د ځمکې د مالیاتو له ورکړې معاف دي.  همدا شان د دوی یو شمیر کورنۍ چمن ته نیږدې سنځل کې استوګنې دي. «بن» *په دې نوم یو کلی په ۴ ــ ۳۱، ۳۷ ــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

**کیشانې**: دا د توخي غلزیو یوه اساسي څانګه ده. «ملوی»

* **کیتي**: ۳۳ ــ ۳۳، ۴۵ ــ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «کوۀ کرد» په لویدیځ اړخ کې یو کلی دی.

---

[1] - Sih -Kala
[2] - Pseins
[3] - Kiral
[4] - Mandan Nala
[5] - Sabura


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**قزلباش:** وګورئ: شپږم ټوک
**کلکه:** یا: کِلَـکه: ۱۶ ــ ۳۱، ۷ ــ ۶۷ «ن»: دا یوه ناله ده چې د بهیدلو تګ لوری ئـې سویل لویدیځ لور ته دی او له بیانزیو ۱۵ مایله کښته په کدني کې ډوبیږي. دا ناله د «شاه ګاش لونه» [6] د غرونو په شمالي ډډو کې راپورته کیږي چې «خواجه زي بارکزیو» د دې نالې د غاړو په اوږدو کې ډیره کرهڼه کړې ده. له اساسي سیند سره د یو ځای کیدنې په ټکي کې د لوی څواک لپاره یو ښـهٔ او غوره ځای سته. «بن» اوسنی نقشې « د کلک شیله» [7] نوم ښیي.
**کوا کاریز:** [8]: ــ ۳۰ ، ـ ۶۶: ویل سوي چې دا د «کـُـنـچې» یا د «کوچي» [9] د کمپ په سیمې کې د کلي صحیح نوم دی، دا کلی کندهار ته د تللي سړک پر غاړې له «ګواجهه» [10] څخه ۲۰ مایله لیرې واقع دی. دا کلی د «کـُـنـچي» تر سرلیک لاندې شرحه سوی دی.
* **کوچک:** ۵۷ ــ ۳۲، ۴۳ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزګان د ختیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کې د «اشرا» [11] کلي ته نیږدې او د روزګان په ولایت کې د «کوچک کلي» [12] سویل لویدیځ کې یو کلی دی.
* **کوڅـَکه:** یا: کوچـَـکه: ۴۶ ــ ۳۱، ۲۷ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې په افغان سرحد کې د «تاروي» [13] د سویل ختیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې یو کلی دی.
* **کوچنی دریاب:** [14]: ۵۹ ــ ۳۱، ۳۹ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «واړ» [15] په سویل لویدیځ کې، «د تور وام ماندې» [16] پر غاړه یو کلی دی.
* **کوچنی کنګر:** [17]: ۴۳ ــ ۳۱، ۱۲ ــ ۶۷: "ن": دا د کندهار په ولایت کې د "سکزي" د شمال په ۳ مایلۍ کې د کنګر ماندې پرغاړې د "باري د غرهٔ" په سویل کې د "کنګر ماندې" پر غاړې یو کلی دی.
**کودي:** ۳۶ ــ ۳۲، ۳۹ ــ ۶۷ «ن»: د «غزني پر لور» د توخي له سیمې وروسته د «تره کیو» د کلیو په منځ کې لومړني کلي چې راځي «بالاهیر» د سیند پر ښی غاړې دی او کودي د ترنک پر کیڼې غاړې د کلیو یوه ډله ده. «ایوان سمیت»
**کوغي:** ۲۶ ۰ ۳۱، ۱۸ ــ ۶۶ «ن»: دا د ارغسان د سیند د سویل په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې شمال لور ته د «ورجل» [18] د کوتل پر لور سړک باندې یو کاریز دی. دلته غنم او جوار شنـهٔ کیږي او اینځر هم لري. د دې سیمې وګړي درانیان دي چې پسونه، وزې، او یو شمیر کورني څاروي لري خو اوښان نـهٔ لري. د بار وړلو لپاره غوایان او خرونه هم له دوی څخه تر لاسه کیدای سي. له دې ځایه ۲۰ خرواره غنم، ۲۰ خرواره بهوسه او ۵ خرواره جوار تر لاسه کیدای سي. د دې ځای معتبر [19] سړی په قوم نورزی، محـمد، د آدم خان زوی دی. دې ځای ته نیږدې یو بل کاریز هم سته چې د «نارغل» [20] په نوم یادیږي او استوګن وګړي ئـې کاروي. «بومي معلومات ۱۹۰۴ ــ ۰۵»
**کهک:** ۴۲ ــ ۳۱، ۴۰ ــ ۶۵: دا کندهار ته نیږدې د ارغنداب د سیند پر ښی غاړه د «جلیران» [21] په تقریباً مقابل لور کې یو کلی دی. «بیسکو»
**کهن دلان:** دا د خاکریز په درې کې د کلیو یوه ډله ده. «لینس»
**کوه ــ ی- دزد:** ـ۳۱، ـ ۶۱: دا د کندهار په شمال ختیځ کې د رباط د دښتې او د خشک رود د درې تر منځ په غرنۍ لړۍ کې د یوهٔ غرهٔ نوم دی. که داسې وانګیرو چې سرتیري په خشک رود یا د ارغسان په درې کې وي نو کوهٔ دزد د

---

6 - Shahgashluna
7 - De Kelake Shelah
8 - KOA
9 - Kunchai or Kuchi
10 - Gwajha
11 - Ashra
12 - Kochak Kalay
13 - Tarwi
14 - KOCHNAI DARYAB: په انګلیسي متن کې د دې نامـهٔ ترڅنګ ئـې په عربي الفبا «کچنی دریاب» لیکلي دي: ژ
15 - War
16 - De Torwam Mandeh
17 - KOCHNA I KANGAR: په انګلیسي متن کې د دې نامـهٔ ترڅنګ ئـې په عربي الفبا «کچنی کنګر» لیکلي دي: ژ
18 - Warjal pass
19 - motabar
20 - Narghal
21 - Jaliram


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ

«هیلوگرافیکو سینګالونو» [22] لپاره ښـهٔ او غوره موقعیت دی. دا غر له یوې خوا د کندهار په اړخ کې په منظر کې ښکاري او له بلې خوا د ارغسان د ډیرې برخې، د خشک رود او د لوړه د درو تر منځ منظر کې واقع دی. په یوې مستقیمې کرښې د دې غرهٔ او د کندهار تر منځ واټن ۳۶ مایله دی. «کلیفرډ»

**کوهٔ تیبان**: ۵۵ – ۳۱، ۳۸ – ۶۵ «ج»: دا د خاکریز په غرنی لړۍ کې د «درز آب» کوتل ته نیږدې یو غر دی. لینس وایي چې دا یو مخروطي غر دی چې د ټولې لړۍ په منځ کې دا غر د پام وړ لوړتیا لري او له ډیر لیرې زښت څرګند دی. «لینس»

**کوهٔ کاران/کوکران**: ۳۷ – ۳۱، ۳۶ – ۶۵ «ن»: دا د ۷۵ کورونو یو کلی دی چې خپل نوم ئـې د کندهار – هرات د سړک پر غاړې د کندهار په ښار کې د هرات له دروازې ۷ مایله لیرې د کمپ وهلو یوې سیمې ته ورکړی دی همدې ځای ته د عباس آباد له لارې یوه مستقیمه لاره راغلې ده خو د دې لارې په اوږدو کې په ډیریو ځایونو کې ویالې او نهرونه په تقاطع تیر سوي دي چې د توپونو د خوځښت لپاره ئـې ډیره سخته کړې ده، او له «دراني دروازې» دباندې د کمپ له سیمې څخه ۱/۲ ۹ مایله سړک تللی چې د ښار په شمالي اړخ کې پرمخ ځي او بیا د زاړهٔ کمپ له منځه او د چهل دختران او عباس آباد له منځه تیر سوی دی چې د نورو په منځ کې دا غوره لاره ده. د کمپ ساحه په داسې ځای کې واقع ده چې د اوبو د راتولولو بهیر یا خوړ ئـې له ځنګونو تیریږي او یا هم له ارغنداب څخه اوبـهٔ ترلاسه کیږي چې دا سیمه ئـې کینې غاړې ته نیږدې واقع ده او د ستر ځواک د ځایولو لپاره ښـهٔ ځای دی. دلته د دې سیمې په ګاونډ کې وریجې د سیمې اساسي محصول دی خو ور سره نور د اړتیا وړ توکي هم د چم ګاونډ له کلیو څخه په ډیره اندازه ترلاسه کیدای سي ځکه ګردچاپیره سیمه ډیره حاصلخیزه ده او ډیره ښه کرل سوې ده. د ۱۸۷۹ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د اوښ څر لپاره ځایونه نسبتاً به ندرت موندل کیدل خو د سیند پر غاړو په ځینو ځایونو کې موندل کیدل، د کابل یاد داشتونه وایي چې «جَوسه» پریمانه ده، واښـهٔ ئـې ډیر دي او بهوسه عمدتاً رشقه له دې ځایه ترلاسه کیدای سي. د کوهکران کلی یا د سټیوارټ په وینا د کلیو ټولګه په قریه جاتو پورې اړه لري او د ۱۸۷۹ – ۱۸۸۰ز کال په اوږدو کې د سرتیپ نورمحمد خان ملکیت وو، نوموړی په قوم محمد زی دی او ښـهٔ شتمن سړی دی او ډیر نفوذ هم لري. سرتیپ نور محمد خان دلته یو کور او د سړک پر غاړه یو ډیر ښـهٔ ودان سوی سرای درلود چې د کمپ له سیمې څخه ۴۰۰ یارډه لیرې وو، همدا شان نوموړی د ارغنداب په درې کې نور ملکیتونه هم لري. په ۱۸۹۳ز کال کې بیت دا کور وموند، دا کور پخوا زموږ د سپرو ځواکونو د لیوا مرکز وو چې اوس په بشپړ ډول لویدلی دی ځینې کنډوالې هم سته خو د راتلونکي لپاره د کارولو وړ نـهٔ دي. د کمپ له سیمې ورهاخوا ارغنداب چې کله سیلابي سي نو دې سیمې ته یوه هیبتناکه مانعه جوړه کړي خو په عادي وختونو کې په ډیریو ځایونو کې له سینده پورې غاړې اوښتل شوني دي او داسې ښکاري چې دلته له سینده د پورې غاړه اوښتلو لپاره څو متبادل ګودرونه سته. د ۱۸۳۹ز کال د مې په میاشت کې له دې سینده زموږ ځواکونه هغـهٔ مهال د یوهٔ آسان ګودر له لارې پورې غاړه واوښتل چې له کوهکران څخه ۵ مایله لیرې سنځري ته ئـې مارش کاوهٔ، له همدې تکي څخه ۴/۳ مایله کښته بلې غاړې ته د «پیتمن رابرتسن» ۱۸ انچه توپونه هغـهٔ ټکی ته واستول سول چې سیند له سړک سره مخامخ کیږي؛ خو د ۱۸۷۹ز کال د جنورۍ د میاشتې په اتلسمې نیټې دا ګودر غوره سو، او ګومان کولای سو چې دا ګودر له کوهکران څخه تقریباً ۱ مایل لیرې، ځکه غوره سوی وو چې هرو مرو په نورو کې به تر ټولو ښـهٔ ګودر وو. دلته د سیند کینه غاړه لوړه ده نو د توپونو او بار وړونکو څارویو لپاره باید یوه ریونده لاره سیند ته کوزه سوې وي او دوی باید دا لاره ورته جوړه کړې وي، دا درووند کار وو. توپچیانو ته هدایت ورکړ سو چې مستقیماً له همدې ریوندې لارې څخه لاړ سي، بار وړونکي څاروي او سرتیري باید په نیمایي لارې کې باید تاو سوي وای ترڅو د سیند په بستر کې له باتلاق څخه اجتناب وکړي. دا ګودر د سیند په ښۍ زاویې کې پرمخ تللی وو او هغه مهال له ۲ تر ۱/۲ ۲ فیټو پورې ژور وو؛ د اوبو د بهیدلو چټکوالی ئـې له ۲ تر ۴ مایلو په ساعت کې وو؛ د سیند بستر جغلي او ډبرین وو. د سیند په مقابلې غاړې کې، توپچي ځواک باید د ۱۰۰ یارډو په اوږدوالي له باتلاقي ځمکې څخه په ډیر احتیاط تیر سوی وای. د ۱۸۷۹ز کال د مې په میاشت کې له دې ګودر څخه اوښتل د سیلابونو له کبله ناشوني ول؛ د کمپ د سیمې په شمال کې څو سوه یارډه وړاندې په کوهکران کې د سرتیپ د کور په لویدیځ کې د یوهٔ بل ګودر په هکله ښاغلي کومب راپور ورکړ چې د ۱۸۸۰ز کال د سپتمبر په میاشت کې د دوه وو ورځو لپاره د تیریدلو وړ نـهٔ وو، داسې ښکاري چې د سیند په پورتنۍ برخې کې درانده بارانونه سوي ول، ځکه کومب وایي چې دغه وخت آسمان وریځ وو، د شګو توفانونه او درانده بارانونه ول. هغه سړک چې د دې ګودر بلې غاړې کې دی «فقیران» ته ځي. د کمپ سیمه په دې لور کې د اوبو د یوهٔ لوی بهیر په وسیلې له سیند څخه جلا سوې ده چې په څو ټکیو کې ورڅخه پورې غاړې اوښتل شوني دي. دغو ګودرونو باندې باید کار وسي، د کندهار او فقیران تر منځ یو پُل جوړ سوی وو چې سرتیري او مهمات او خوراک توکي ورڅخه تیر سي. بیسکو وایي چې د کوهکران استوګن وګړي غلزي او محمد زي دي. «همدا شان وګورئ: "دِهٔ سبزي"» (سټیوارټ، کومب، برون، بیسکو، بیت، آی. بي. سي. )

---

[22] - heliographic signalling


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**کهندل کاریز**: ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا د ترنک د سیند پر کیڼې غاړې د کندهار د ختیځ په تقریباً ۱۷ مایلۍ کې یو کلی دی. «بیسکو»

**کوکل کاچ**: [23]: دا د «مانک نیکـهٔ» [24] د شمال په تقریباً ۸ مایلۍ کې د بلوڅ د سرحد پر غاړې د بارکزیو یو کلی دی. دې کلي کې له ۲۰۰ ډېر کورونه دي او د پام وړ کرهنیزه ځمکه لري. دلته اوبـهٔ او د اړتیا وړ توکي سته او هم د کمپ وهلو لپاره سیمه لري؛ له مانک نیکـهٔ، بیان زیو او د شادي خاک له کوتل او معروف څخه سړکونه همدلته له یوبل سره متلاقي کیږي او دا د کاروانونو لپاره د سوداګرۍ یو مهم مرکز دی. د سالیسن/ثالثون له سیند څخه شمال لور ته څو مایله وړاندې د کوکل کچ سیند د ډورۍ له سیند سره یو ځای کیږي. «آی. بي. سي.»

**کونچه زي**: ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا د ارغسان په درې کې او د ارغسان د یوې څانګې د «وندوز نالې» [25] پر غاړې د پینځو مهمو کلیو یوه ډله ده. په ۱۸۷۹- ۱۸۸۰ز کال کې دغه کلي د هغوی د ملکانو په نومونو یادید: مسکین خان، محمد اسلم، عمر خان، میر اسلم او سیف الله. د دغو کلیو ټول استوګن وګړي بارکزي دي، دا خبره د پورته یاد سوي مسکین خان له پلوه تصدیق سوې ده، نوموړی د همدغو پینځو کلیو په منځ کې د لوی کلي ملک دی. دا ډول څو کلي ښاغلي مسي یاد کړي دي چې شرحه ئـې جلا جلا راغلې ده او ویل ئـې دي چې دا هغه ځایونه دي چې زموږ سرتیرو د امین په کلا کې کمپ وهلی وو او کیدای سي د اړتیا وړ توکي ورڅخه تر لاسه سي. «کلیفرډ، مسي»

**قریش**: دا د عربو د یوې مشهورې قبیلې نوم دی چې پیغمبر په خپله له همدې قبیلې څخه وو. د دې قبیلې بیلابیلې کورنۍ وخت ناوخته د فارس د خلیج له لارې کډه سوې دي، د همدغو کورنیو خوارهٔ وارهٔ اعقاب په افغانستان او بین الاندس سیمو کې موندل کیږي. دوی ته هر چیرې په درناوي کتل کیږي او تل په قدسیت تظاهر کوي او دوی ته «پیرزاد» او نور نومونه ویل کیږي. «لوچ، میتلند»

**کاسکه**: ـ۳۱، ـ ۶۸: دا د شاه غر په سویل لویدیځې انتها کې د ښو اوبو دوه چینې او د پوونده وګړو د کمپ سیمه ده چې له تره کي تیروې څخه تر غزني پورې د سړک پر غاړې واقع دي. «بن» دلته د ۵۰ خاصه دارانو یوه پوسته هم سته. «ای. بي. سي.»

* **کوتل**: ۱ – ۳۳، ۵ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د خوش خضر د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **کوتلک**: ۴۵ – ۳۲، ۱۱ – ۶۷ «ن»: دا د زابل د ولایت په شمال کې «اوکل» ته نیږدې د ارغنداب رود پر غاړې یو کلی دی.

**کوتي زي**: وګورئ: کوتي زي

**کوتکي**: ۳۳ – ۳۱، ۱۷ – ۶۷ «ن»: دا د سرخاب په سویل او د «بابکر څاهانو» په شمال لویدیځ کې د غرونو یوه لړۍ ده. له سرخاب څخه یو سړک تر معروف پورې د همدې لړۍ له منځه د «غـُنـځي نرۍ» [26] د کوتل له لارې چې د لړۍ له لوړې څوکې څخه شمال لویدیځ لور ته تقریباً ۴ مایله لیرې ده، تیریږي. معروف ته بل سړک د کدني له سیند څخه د «شادي خاک» د کوتل له لارې د «غـُنـځي نرۍ» د سویل لویدیځ په ۵ مایلۍ کې د «خانکي» د کوتل له لارې تیریږي. «بن»

**کویټه**: وګورئ: کواټه

**کوبـهٔ مردا شي**: [27]: ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا د زاړهٔ او نوي کندهار تر منځ «دِهٔ ماسوس» ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو»

* **کوچال**: ۳۵ – ۳۲، ۴۶ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې مقر ته د تللي سړک پرغاړه د آبِ ایستاده په شمال لویدیځ کې د «سین سي ماندې» [28] پر غاړې یو کلی دی.

**کوچاس**: «کوچی»: ۳۷ – ۳۱، ۳۷ – ۶۵ «ن»: دا د ارغنداب پر غاړې یو ځای دی او خپل نوم ئـې له کوهکران ۱ مایل پورته یوهٔ ګودر ته ورکړی دی.

د ۱۸۷۹ز کال د اپریل د میاشتې د راپور له مخې د ګودر تل شګلن او نسبتاً خطرناک ویل سوی چې ۴ فیټه ژول ښودل سوی دی. دا امکان سته چې بیت هم د ۱۸۹۳ز کال د اپریل په میاشت کې له همدې ګودر څخه اوښتی وي. نوموړی وایي: " سینجري «سنځري – ژ» ته مې مستقیمه لاره نـهٔ سوای نیولې نو ځکه مجبور سوم چې په کوهکران کې مخه واړوم او له کوهکران څخه یو نیم مایل پورته په هغـهٔ ټکي کې له سیند څخه واوړم چې هلته یو ښـهٔ ګودر وو، ځکه دا

---

[23] - KO KA L KACH: ښایي دا «کوکل کڅ» وي - ژ

[24] - Manak Nikah

[25] - Wandoz Nala

[26] - Ghunzi Narai pass

[27] - KUBA -I- MURDASHAI : په انګلیسي متن کې ددې نوم مخې ته ئـې عربي الفبا «کوبه مرده شوی» لیکلي دي - ژ

[28] - Sisni Mandeh


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ثابته سوي وه چې له همدې ګودر څخه ټول ترافیک بلې غاړې ته اوښتـۀ. دلته مو لومړی د یابوګانو له اوړو بارونه کوز کړل او د اوښانو پر شا مو پورته کړل او له سیند څخه تر «دۀ سبزي» پورې له کومي ستونزې پرته واوښتلو، دلته اوبـۀ د اوښ تر ګیډبند پورې وې. «آی. بي. سي. بیت»

نور بیا
*** کوچي خیل:...**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټـوک ټولي برخي لوستی شئ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ